PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت دویم کال، ۸۳ مه ګڼه، شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د لړم ۲۲ مه د۱۴۳۱ هـ ق د ذوالحجة ۲ مه د۲۰۱۰ م د نوامبر ۱۳ مه

الهي لارښوونې

اې مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ. نیکیو ته ملا وتړئ. تر څو مو خلاصون په برخه شي. د الله په لیار کې داسې حق جهاد وکړئ چې دهغه سره ښایي. هغه تاسو غوره کړی یئ او په دین کې یې په تاسو کوم سختوالې او تنګي نه ده ټاکلې. د خپل پلار ابراهیم پر ملت ټینګ ودریږئ او الله پاک پخوا هم تاسې مسلمان نوموړلي واست او په دې قرآن کې هم ستاسې همدا نوم دی. (سورة الحج : ۷٦ - ۸۸)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:
یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه دې پخپله پر هغه ظلم کوي او نه دې بل ظالم ته سپاري. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور اړتیاوې پوره کوي نو الله تعالی دهغه اړتیاوې پوره کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور تکلیف لرې کوي نو الله تعالی د قیامت په ورځ دهغه تکلیف لرې کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور پر عیب پرده اچوي الله تعالی د قیامت په ورځ دهغه پر عیبونو پرده اچوي. (بخاري)

ځنې کسان شته چې د سولې په هلو ځلو خوښ نه دي ځکه دوی په یو سوله ایز، باثباته او مستقر نظام کې خپلې پروژې او ګټې له لاسه ورکوي

د سولې عالي شورى دې دهغو افغانانو له ترحو او تجربو ګټه واخلي چې په ځانګړي او ډله ایزه توګه د سولې لپاره هلې ځلې کوي

تر هغې چې د روانې قضیې ټول اړخونه په یو افغان شموله جرګه کې ګډون ونکړي یو اړخیزه جرګې به دسولې په راوستو کې بریالی نه وي

دویم مخ

نقش کانادا بعد از ۲۰۱۱ در افغانستان کاملاً غیر نظامی خواهد بود

استفن هارپر

کانادا، رسانه ها:
صدراعظم کانادا می ګوید، وی با بی میلی تصمیم ګرفته تا نیرو های آن کشور در افغانستان باقی بمانند، ولی نقش عساکر این کشور آموزش نیرو های افغان خواهد بود، نه جنګ علیه شورشیان.
ماموریت جنګی نیرو های کانادایی در افغانستان در آخر سال ۲۰۱۱ میلادی به پایان می رسد.
استفن هارپر، صدراعظم کانادا این موضوع را دیروز در حاشیه اجلاس ګروه ۲۰ در سوول، پایتخت کوریای جنوبی بیان کرد. به ګفتهء هارپر، وی ترجیع می داد تا تمام نیرو های آن

بقیه در صفحه ۴

اوباما ته د افغانستان د جګړې د لوړو لګښتونو خبرداری ورکړای شو

تاند ویب پاڼه:
یوه خپلواک پلاوي د جمعې په ورځ ولسمشربارک اوباما ته په افغانستان کې د امریکايي پوځیانو د زیات لګښت په وړاندې خبرداری ورکړ او ویې ویل که چېرې په دسمبر کې د افغانستان لپاره د امریکا د ستراتیژی په بیا کتنه کې څرګنده شوه چې هغه بریالی نه ده نو په افغانستان کې دې د امریکايي پوځیانو شمېر کم کړای شي.
دا پنځه ویشت کسیز پلاوی یا ضربه قوه، چې د امریکا د بهرنیوچارو د پخوانې مرستیال وزیر ریچارد ارمیتاج او د ملي امنیت پخواني سلاکار ساموېل برګر یې مشري کوي، وايي چې د افغان امنیتي ځواکونو په روزنه کې ښه والی په افغانستان کې امېدواروونکې نښې دي خو نورې چارې د لړ تشویق وړ دي.
څېړونکي پلاوي په خپل اته نوي مخیز راپور کې ویلي: "ناڅرګند تصویر او لوړ لګښتونه

پاتې ٤ مخ

پیام تبریکه حزب اسلامی افغانستان به مناسبت حلول عید سعید اضحی

شورای رهبری و اعضای محترم حزب اسلامی افغانستان عید سعید اضحی را که نمونهٔ از بزرګترین آزمون در تاریخ بشریت است برای مردم مسلمان و مؤمن افغانستان که همیشه در راه برافراشتن پرچم توحید، دفاع از شعائر دینی شان، در راه حفظ کرامت انسانی قربانی های بیدریغ را متقبل شده اند، اسماعیل ګونه در برابر آزمون پروردګار شان ایستاده ګی نموده اند تبریک و تهنیت عرض نموده و موفقیت های درخشان شانرا بخاطر صلح، وحدت ملی، یکپارچګی، حفظ استقلال، آبادی و عمران کشور را از بارګاه ایزد منان خواهان اند.
تا باشد یکبار دیګر این ملت قهرمان ثمرهٔ خون شهدای خویش را نادیده نګرفته و بخاطر تحقق آرمان های شان که آزادی و استحکام نظام الهی بوده ګام های استوار و متین را بردارند.
ختم جنګ، ثبات و صلح دایمی، آزادی و سرفرازی وطن آرزوی ماست.

د حجة الوداع خطاب

درېیم مخ

امریکا د پردې تر شا څه کوي

درېیم مخ

په افغانستان کې به مو وسلوال ایجنټان د نشه یي مواد پر ضد عملیات کوي "روسیه"

اندرې اویتسیان

ازادی راډیو:
د افغانستان لپاره د روسې استازی وايي ددغه هیواد په شمال کې د نا امنیو زیاتوالي مسکو ته ویره او اندیښنه پیدا کړې ده.
اندرې اویتسیان رویټرز اژانس سره په مرکه کې ویلي روسیه به په افغانستان کې د نشي موادو پر ضد مبارزه کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي او په راتلونکې کې به هم ددغه هیواد وسله وال اجنټان د مخدرو موادو ضد عملیاتو کې ونډه واخلي.
دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومت په دې وروستیو کې په ننګرهار ولایت کې د نشي موادو د لابراتوارونو د منځه وړلو په عملیاتو کې د روسيي سرتیرو د ګډون د

پاتې ٤ مخ

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

THE TIMES

نیویارک ټایمز:
نیویارک ټایمز ورځپاڼې په وروستې ګڼه کې په یوه مطلب کې له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو لپاره د مهال ویش پر اعلان یوه مقاله خپره کړې ده.
ورځپاڼه وايي، افغان ځواکونو ته تر دوه زره نړیوالو ورځپاڼو یو ځل بیا له افغانستان د نړیوالو ځواکونو د وتلو پر مهال وېش او افغان ځواکونو د هېواد د امنیتي مسوولیت په اړه مطالب خپاره کړي دي او لیکلي یې دي، چې افغان ځواکونو د مسوولیت سپارلو مساله په له ډېرو پوښتنو او نیوکو سره مخ شي.

پاتې ٤ مخ

د انتخاباتو کمیسون ورځ تر بلې د رسوايي سره مخ کیږي

دا کمیسون یواځې په درغلیو او خپلسرو کړنو کې خپلواک دی

کابل، رسنی:
د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمیسون وايي د هغه تور په باب پلټنه کوي چې پراساس یې ویل شوي د حکومت یوه جګپوړي چارواکي د انتخاباتو یو کارکوونکی هڅولی چې په هرات کې د انتخاباتو په لومړنیو نتیجو کې ګوتې ووهي.
د انتخاباتو د خپلواک کمیسون ویاند نور محمد نور وویل چې دې کمیسون په کابل کې د انرژی د وزیر محمداسماعیل خان او د یوه انتخاباتي کارکوونکي ترمنځ د شلو دقیقو ثبت شوې مکالمه ترلاسه کړې او په هغې کې اسماعیل خان د انتخاباتو کارکوونکي ته لارښوونه کوي چې په هرات کې تر لسو زیات کاندیدان د ګټونکو له لیسته وباسي او پرځای یې نور، چې دی یې نوموړنه اخلي، شامل کړي.
د اسماعیل ویاند د رسنیو له ډېرو هڅو سره سره حاضر نه شو چې په دې باب تبصره وکړي.
اسماعیل خان پخوا د هرات والي وو خو کرزي په ډېرو خواریو له هراته کابل ته وروست او د اوبو او انرژی وزیر یې وټاکه. هغه ته د کرزي د ولسمشری په دوهمه دوره کې ولسي جرګې د اعتماد رایه ورنه کړه او تر اوسه پورې د سرپرست وزیر په توګه کار ته دوام ورکوي.
په انتخاباتو کې د درغلیو په باب د دغه دولتي چارواکي ثبت شوې خبرې په داسې حال کې افشا کیږي چې د انتخاباتو دواړه کمیسونونه په پراخو درغلیو تورن شوي او ویل شوي چې د انتخاباتو په نتیجو کې یې ګوتې وهلې او ډېرې رايې، چې په لومړۍ ورځ شمېرل شوې وې، اوس یو مخ یې درکه دي.

پاتې ٤ مخ

زلمی رسول:

موږ هڅه کوو چې له ایران سره شته ستونزې هوارې کړو

کابل، رسنی:
که څه هم په ایران کې د افغان بندیانو د اعدامونو د لړۍ د بندولو لپاره تر اوسه کوم پریکنده پرمختګ نه په ستر ګو کیږي، خو د بهرنیو چارو وزارت بیا د دې ستونزې د هوارې لپاره روانې هلې ځلې بریالی بولي.
د بهرنیو چارو وزیر زلمي رسول، چې منځنی ختیځ ته یې د خپل سفر له بشپړولو وروسته د پنجشنبې په ورځ په کابل یوې خبري غونډې ته وینا کوله وویل، چې دوي هڅه کوي، په ایران کې موجود افغان بندیان هېواد ته انتقال

پاتې ٤ مخ

په افغان دولت کې د فراخ فساد په اړه اندېښمن یو "امریکايي سناتوران"

تاند ویب پاڼه:
د امریکا د کانګریس یوشمېر غړیو، چې افغانستان ته یې سفر کړی، خبرداری ورکړ چې د افغانستان ولسمشرحامد کرزی دې په خپل حکومت کې د فساد مخه ونیسي کنې د جګړې په میدان کې ترلاسه شوې کامیابۍ ممکن بېرته له لاسه ووځي.
مخکښ جمهوري غوښتونکي امریکايي سناتور جان مککین له ولسمشر کرزي سره تر ملاقات مخکې وویل چې دی او له ده سره افغانستان ته درې نور راغلي ملګري به د افغانستان په حکومت کې د پراخ فساد او رشوتخورۍ په باب خپله اندېښنه ولسمشر کرزي ته څرګنده کړي.
جان مککین چې د امریکا د مشرانو جرګې د وسله والو خدماتو په کمېټه کې دی ، وايي: "موږ د حکومت په ټولو برخو کې د فساد د دوام په هکله اندېښنه لرو. موږ پوهېږو چې د دې مهمې مسلې له حل کولو پرته اوږدمهال بری له خطر سره مخامخېږي."
مککین، چې په کابل کې د امریکا په سفارت کې خبرې کولې او سناتور جولیبرمن، سناتور لینډسي ګراهام او سناتوره کرستین ګیلیبرانډ ورسره ملګري وو، وویل : په لسګونو زره امریکايي، ناټو او افغان ځواکونه چې د افغانستان په جنوب کې د طالبانو په مرکز کې جنګېږي، په وروستیو میاشتو کې پرمختګونه کړي خو لا هم لوی چلینجونه یا ستونزې په خپل حال پاته دي.
ده وویل: "بې له شکه تصفیه، نیول او ساتنه خورا اهمیت لري خو څه ته چې موږ هیله من

پاتې ٤ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

اختر مو مبارک شه

راځئ قرباني پخپل اصلي روح او جذبې ترسره کړو

له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چې قرباني څه شی دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا ستاسې د پلار ابراهیم علیه السلام سنت دی.

موږ ټولو مسلمانانو ته د ابراهیم علیه السلام د قرباني حقیقت څرګند دی چې هغه ته الله جل جلاله په خوب کې په پرله پسې ډول درې شپې حکم وکړ چې خپل زوی اسماعیل علیه السلام د الله په نوم قرباني کړه. لکه څنګه چې د انبیاو خوب هم د وحې مرتبه لري نو ځکه ابراهیم علیه السلام په پراخه تنده او له خېګانه پرته خپل زوی د قرباني لپاره څملاوه او تیره چاړه یې دهغه پر مری راښکله، د الله تعالی په دې امتحان کې ابراهیم علیه السلام سرلوړی شو، او الله تعالی ورته په بدله کې د زوی پر ځای له جنت نه ګډ ولیږه چې قرباني یې کړي.

اصلاً الله تعالی په دې کار سره له ابراهیم علیه السلام نه د مینې او خلوص ازمیښت اخیست چې کامیاب شو، که چېرته موږ د ابراهیم علیه السلام دې قرباني ته په ژور نظر و ګورو نو دې پایلې ته رسېږو چې الله تعالی له مؤمنانو د سمې بندګی او غلامی عملي ثبوت غواړي چې یو بنده د ابراهیم علیه السلام په څېر د عمل په ډګر کې د خپلې سوچه بندګی ثبوت ورنکړي هغه په دنیا او آخرت کې د بریالیتوب پړاوونه نه شي وهلې ځکه خو لوی الله پخپل سپېڅلي کتاب قرآن کریم کې فرمایلي دي چې الله تعالی ته ستاسې د قرباني غوښه او وینه نه، بلکې ستاسې تقوی او اخلاص رسیږي.

داسې معلومیږي چې د افغانانو قرباني له هغه روح او جذبې نه خالي ده چې زموږ پلار ابراهیم علیه السلام د خپل پالونکي ذات ته وړاندې کړې وه، که موږ هم په همغه جذبه او اخلاص قرباني کولای نو له شک پرته به زموږ نورو کړنو هم د الله تعالی د سوچه بندګی ګواهي وړاندې کوله او د ژوندانه په ټولو چارو کې به مو د اسلام د سپېڅلي دین برکتونه او ښېګانې خورې وې. په هغه ټولنه کې چې د الله تعالی ریښتونی بندګي او منښته وي هلته بیا زموږ د ټولنې په څېر د قوم، ژبې، رنګ، سمت او عقیدې اختلاف نه وي، کومې ټولنې چې د الله تعالی د بندګی کړی په غاړه واچوي هلته بیا د بل چا د غلامي تصور نه شي کولې، کومه ټولنه چې د سپېڅلي ایمان او عقیدې په ګاڼه سینګار شي هلته بیا د ورور وژنې، ظلم، ناانصافي، بې حیایی، بې غیرتی، غلامی، رشوت، درواغ، غلا، خیانت، عداوت، کینه او حسد جرړې نه شي پاتې کېدې، دا ټول کارونه د الله تعالی د بندګی په خلاف او برعکس دي.

اصلاً د اسلام سپېڅلی دین د انسانیت د ښېګڼې او فلاح لپاره نازل شویدی، مګر دا ښېګڼه او کامیابي هله ترلاسه کېدې شي چې په صحیح توګه ورباندې عمل وشي او د نفس ټولې غوښتنې د الله تعالی د غوښتنو په وړاندې قرباني شي. لکه څنګه چې ابراهیم علیه السلام د خپل پالونکي ذات په وړاندې د خپل ګران زوی د قرباني لپاره په بشپړ اخلاص عملاً چمتو شو همداسې موږ هم د الله د هرې غوښتنې او حکم پر وړاندې لړ تر لږه د خپلو نفسونو د قرباني لپاره عملي ګامونه واخلو. موږ باید په دې حقیقت ځان پوه کړو چې تر کومې مو د ټولو الهی احکامو په وړاندې د خپلو نفساني غوښتنو قرباني نه وي وړاندې کړې، زموږ دغه د څارویو رواجي قرباني هیڅ اهمیت نه لري.

که موږ واقعاً د هر ډول طاغوتي نظامونو له غلامی ځان پاک او یواځې د یو الله په بندګی کې ژوند تیرول غواړو نو لدې پرته بله هیڅ لاره نشته چې خپلې ټولې نفساني غوښتنې د الله تعالی د غوښتنو په مقابل کې قرباني کړو او په دې توګه د حضرت ابراهیم علیه السلام د قرباني هغه اصلي روح او جذبه پر ځای کړو چې موږ ته یې تر قیامته پورې پریښې.

راځئ ټول لوی، واړه د الله په وړاندې کلکه وعده وکړو چې د لوی اختر قرباني په هغه روح او جذبه ترسره کوو چې ابراهیم علیه السلام ترسره کړې وه، او په دې توګه د خلیل الله د لوړ لقب وړ ګرځیدلې وو، راځئ د خپل ایماني مسؤولیت د ترسره کولو او د الهي نصرت د ترلاسه کولو په موخه ددې خبرې ژمنه وکړو چې لدې وروسته به (د کونو عبادالله اخوانا) د الهي حکم مطابق، پخپلو کې یو بل ته د مینې او اخلاصه ډک د وروری غیږې پرانیزو، د (واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقوا) پر آیت د عمل په ترڅ کې به هر ډول تفرقې او بې اتفاقی ته خاتمه ورکوو، خپل منځي غیر اسلامي ناروا شخړو ته د پای ټکی ږدو، د اسلام او هېواد د دښمنانو په خلاف به یو دریځ نیسو، او په ګډه به د اسلام د سپېڅلي دین د حاکمیت او د هېواد د استقلال لپاره هلې ځلې کوو. همدا زموږ د افغانانو واقعي اختر، او واقعي قرباني ده.

مرکه کوونکې: عبدالله "کامه وال"

ځنې کسان شته چې د سولې په هلو ځلو خوښ نه دي ځکه دوی په یو سوله ایز، باثباته او مستقر نظام کې خپلې پروژې او ګټې له لاسه ورکوي

د هېواد د روان سیاسي کړکیچ د حل په موخه په مالدیپ کې یوه غونډه جوړه شوې وه چې د هېواد او له هېواده بهر افغانانو ته پکې د ګډون بلنه ورکړ شوې وه، په دې غونډه کې د حزب اسلامي افغانستان مرستیال او د ولسي جرګې د مواصلاتو د کمیسیون رئیس انجنیر محمد خان هم بلل شوی وو، ددې غونډې په هکله د شهادت اونیزې خبریال د انجنیر صیب محمد خان سره یوه لنډه مرکه کړې، چې د شهادت درنو لوستکونکو ته وړاندې کوو.

قدرمن انجنیر صاحب محمد خان !

۱ سؤال: د هېواد روانې کړکیچ په اړه په مالدیپ کې یوه غونډه جوړه شوې وه چې تاسو هم دې غونډې ته بلل شوي وی که مهرباني وکړی او د شهادت درنو لوستونکو ته د غونډې په هکله رڼا واچوی خوښ به شو؟ !

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم

له تاسونه په منه او د شهادت درنو لوستونکو ته د سلام او احترام په وړاندې کولو سره باید عرض وکړم چې هو ! په مالدیپ کې د افغانستان د سولې په اړه دا دریمه غونډه وه چې د همایون جریر له خوا ترتیب شوې وه. دا ځل یې د پنځوسو کسانو په شاو خوا کې ګډون وال ؤ چې له دې جملې دوه نفره د حزب اسلامي غړي له پاکستان څخه، څلور نفره د طالبانو طرفداران یا غړي، د افغانستان د پارلمان اعضاء او په افغانستان کې د مختلفو حزبونو غړو ګډون درلود.

د غونډې هدف د یوې مسودې تیارول ؤ چې د کړکیچ ټولو اړخونو، ګاونډي هېوادو او بین المللي جامعې ته وړاندې شي او دهغوی د موافقې په صورت کې به دا روان بحران پای ته ورسیږي او د سولې لمر به د افغانستان په ملت او خاوره وځلیږي.

۲ س: داسې ویل کیږي چې پدې غونډه کې د پېښور او کویټې نه د مخالفو ډلو یعنې د حزب اسلامي او طالبانو استازو هم ګډون درلود دا ریښتیا ده او که ریښتیا وي نو ددې ډلو په استازی راغلي ګډونوال د کومې کچې خلک وو؟

ځواب: لکه چې مخکې وویل شو څلور کسان د طالبانو په نوم او دوه نفره د حزب اسلامي په نوم په غنډه کې موجود ؤ خو همایون جریر په وار وار په غونډه کې دا اعلان کاوه چې پدې غونډه کې هېڅوک د هیچا په استازیتوب ګډون نلري. تر کومه چې ددې ګډون والو په خپلو خواؤ کې د تنظیمي کچې خبره ده. ماته داسې نه بریښي چې حزب اسلامي یا طالبانو به دا کسان د استازو په توګه د خبرو اترو لپاره د سولې په جرګو کې د نماینده په توګه واستوي.

۳ س: دولت او د دولت مخالفینو دغه غونډه یوه تفریحي او سیاحتي سفر وګڼه تاسو له دې غونډې نه څومره راضي یاستی؟

ځواب: پدې غونډه کې چې په کومه پنځه ماده یې چوکاټ خبرې وشوې، که دا چوکاټ په کمو تغییراتو د ذیدخلو طرفونو له خوا ومنل شي او د سولې خبرو اترو ته کیني، ان شاء الله نتایج به یې ښه وي، خو وړاندوینه دا وه چې دا ځل به د قضیې د طرفونو له خوا څه نمایندګان په جلسه کې ګډون کوي، متأسفانه چې دا ځل بیا هم د تېرو په شان د کړکیچ د هیڅ طرف نماینده نه ؤ، نو طبعي خبره داده چې که د قضیې طرفونه یا خبر شوې نه وي یا یې ګډون رد کړې وي نو بیا د نورو افغانانو جلسات پریکړې، طرحې او یا هم پیشنهادونه څه ګټه نلري.

۴ س: ټول هغه کانفرانسونه او غونډې چې د افغانستان د مسئلې د حل په موښه له هېواده بهر جوړ شوي پایله یې د یو بل جنګ آغاز ګڼل شوې، ستاسو په ګومان دا ډول خبرې اترې د روان سیاسي کړکیچ په حل کې څومره مرسته کولې شي؟

ځواب: زما په فکر پدې جلسه کې چې کوم چوکاټ د سولې لپاره تصویب شو که د قضیې اړخونه هغه ومني او د خبرو اترو د میز شاته کیني، طبعي خبره ده چې راتلونکې ناستې به په وار تر بلې یوې مثبتې پایلې ته ورسیږي که داسې ونه شو، نور ددغسې جلساتو بیا دایرول بیله دی چې یوه سیاسي سرګرمي وي، د سولې په اړه خپل مفهوم له لاسه ورکوي.

۵ س: د افغانستان مسئله د بعضی جهتونو او کړیو لپاره یو اقتصادي پروژه ده چې له دې لارې غواړي هم خپل سیاسي حضور په ټولنه کې ژوندې وساتي او هم یوه اقتصادي لاسته راوړنه ولري ستاسو نظر په دې هکله څه دی؟

ځواب: سوله هغه کلمه ده چې له یوې خوا د اسلامي شریعت له مخې د هر مسلمان وجیبه ده چې د نورو مسلمانانو په منځ کې د سولې هڅې وکړي، بل طرف ته د افغانستان مؤمن ملت نور له جنګ، کړکیچ او ورور وژنې ستړې دی، اوس خو د ملک حالت داسې دی چې اکثره بالنفوذه او مخور کسان حتی د الله جل جلاله عبادت هم په ښه شان نه شي کولای، وینو چې دا کسان یا خو مسجدونو ته د تګ راتګ په لاره یا هم د مسجد په منځ کې په داسې شان شهیدان شویدي چې په لس هاؤ نور کسان هم ورسره زخمي یا شهیدان شوي دي. تر کومه ځایه چې ستاسو سوال پورې اړه لري، هو ! داسې کړی او جهتونه شته چې د سولې لپاره هڅې یې د سولې راوستو په هدف نه بلکې د مختلفو نورو دلایلو په وجه یې په لاراچولې وي، حتی تر دې چې اوس هم ځنې کسان او ډلې د سولې په منځ ته راتګ هیڅ خوښ ندي دا ځکه چې په یوه سوله ایز، با ثباته او مستقر نظام کې هغوی خپلې پروژې او ګټې له لاسه ورکوي.

۶ س: په هېواد کې دننه د افغان دولت له خوا د سولې د عالي شوری تر نامه لاندې یوه شوری جوړه شوې ده ستاسو په ګومان د مالدیپ غونډه او ورته نورې غونډې به د سولې په عالي شوری څه اغیز ولري؟

ځواب: د سولې عالي شوری د افغان دولت له خوا جوړه شوېده، او دا د افغان بحران صرف یو اړخ تشکیلوي. منم چې دا شوری که د زړه له کومې د سولې دمنځ ته راتګ په لاره کې کوشش وکړي کیدای شي داسې شرایط برابر کړي چې د قضیې نورې خواوې د یوه منځګړي په اړه او بیا دهغه منځګړي پلاوی په حضور کې ټول جهتونه خبرو ته کیني او دا قبوله کړي چې نور د افغانستان روان بحران ته له نظامي لارو نه، بلکې له سیاسي لارو د حل یوه لاره پیدا کړي، حتی که د سولې عالي شوری د نورو هغه افغانانو چې په ډله ایزه توګه او پایه ځانګړی ډول د سولې لپاره کار کوي، دهغوی طرحې، تجربې او وړاندیزونه هم واوري دا به بې ګټې نه وي.

۷ س: ددې شوری د جوړولو سیاسي او اقتصادي ملاتړ یې څوک دي؟

ځواب: ددې شوری یو معلوم، ملاتړ یې خو د مالدیپ حکومت دی چې پخپل هېواد کې د جلساتو جوړولو اجازه ورکوي، لدې زیات زه معلومات نلرم.

۸ س: په دغه غونډه کې په کومو مهمو موضوعاتو بحث وشو آیا د بیا لپاره یې هم د ناستې امکان شته او که نه؟

ځواب: په غونډه کې لکه چې پخوا مو وویل په یوه پنځه ماده ایزه طرح توافق وشو دا طرح به د افغاني بحران ټولو اړخونو، ګاونډیو هېوادو او د افغانستان په قضیه کې ذیدخلو نورو ممالکو ته هم وړاندې کیږي، که دا ټول جهتونه په عین طرحه یا هم په څه تغییر له طرحې سره موافق ؤ او د سولې خبرو ته د ناستې موافقه یې وکړه نو بیا به هم دا شوری جلسات دایر کړي، که داسې نه ؤ اول خو نورې ناستې بې ګټې دي، خو که یو ځل بیا هم ناسته وشوه او هغه مشکلات پکې وڅېړل شو کوم چې د طرحې په اړه د جهتونو له خوا ویل شویدی، بې له دې به زما په فکر نورې ناستې د سولې په اړه بې ګټې وي.

امریکا د پردې تر شا څه کوي

منبع: العرب نیوز

دنړیوالومسلویوه شنونکي دامریکادنړیدولپاره دوه ویشت سببونه راوړي اوټینګار يې کړی چې داهیوادبه په نږدې راتلونکې کې دپخواني شوروي په شان ټوټې ټوټې شي.
دمصرد العرب نیوزخبري سایت مشر عبدالمنعم په یوه لیکنه کښې دامریکا اوسني حالت اوشرایطوته په کتوسره ددې امپراطورۍ دزرترزره نړیدولپاره دوه ویشت لاملونه په نښه کړي دي،دې لیکونکي پخواتردې هم دامریکا دمرګ په نامه یوه لیکنه کړې وه.
عبدالمنعم لیکي: کله مې چې خپله پخوانۍ لیکنه د (امریکا مړه شوه) ترسرلیک لاندې ولیکله دخپل ملت لپاره دیوربښتیادځرګندولوپه لټه وم، هغه ربښتیاچې رسنۍ یې دچوپولوپه هڅه کښې دي اودشورماشورپه جوړولوغواړي ، نظرونه دامریکا دشریرې امپراطورۍ دنړیدوڅخه واړوي.
دامریکا دچارواکوغبرګون په دې اړه ډیرحیرانوونکی وو، داسې ښکاري چې ددې خلکولپاره دزغم وړنه ده چې څوک یې دهغه ربښتیاپه اړه څه ووايي چې په دوی پورې اړه لري،
څکه په دې سره به په سیمه کښې دامریکادواکدارۍ وزورواکۍ په وړاندې خلک وپاریږي اوپه پایله کښې به دسیمې له هیوادونوڅخه ددوي دوتلولامل شي اوداسلامي نړۍ څخه به ددوی په وینوسره لاسونه لنډ شي ترڅوخپلوټپونوته پټۍ کیږدي.
دامریکا دژونداوږدوالی یوازې په هغوشیدواووینوپورې تړلی چې عرب اواسلامي واکداران يې ددوي لپاره ورکوي ،که چیرې دعربوداچوپړچې (له خپلوملتونو يې دريغ کړي) نه واى نونن به دامریکا اواسراییلودالویوالی نه واى، خوکیدای شي دابه دالله حکمت وي چې امریکاپاتې شي اوپه پای کښې دافغانستان اوعراق دمظلومومِلتونوله خواورکه شي.
افغانستان ترټولوخواراسلامي هیوادی چې شوروي اتحادیې په ګونډو کړ اواوس يې امریکاته په قندهاراوهلمند کښې دماتې لاره اواره کړې ده،داپیښه په داسې حال کښې کیږي چې دامریکا دپوځ هډوکي په فلوجه اوالانبارکښې دهغه ملت په لاس مات شول چې تریوه لسیزه زیات وخت په کړاوکې دي اوپه دې ترتیب سره د امریکايي پوځي قوت ماته ددې امپراطورۍ دلویدووروستی انځورجوړوي.
ددې جنګ په اړه دبارک اوباما د دریځ له امله دامریکاخلکونوموړی غوره اوجورج بوش يې دکرکې اونفرت څخه په ډکوغبرګونونو له واکه لرې کړ.

دالیکنه دامریکا خواب دهغه دپخوانی لیکنې په اړه ترپوښتنې لاندې نیسي اولیکي:
په دې خواب کښې راغلي دي: (داجګړې زمونږ ټاکنه نه وه اودامریکا متحده ایالات له ځان څخه دفاع ته اړشوي دي.) چې دایوه لویه تېروتنه ده چې دبارک اوباماله خبروسره په ټکر کښې ده،اوبامادافغانستان جنګ دعراق له جګړې څخه بیل بولي اوپه دې ډول يې ارزوي: (د افغانستان جګړه یوه بېړنی، بې ګټې ،د منطق پر ځای په احساساتوولاړه اودسیاسي انګیزنوپربنسټ روانه جګړه ده.)
دامریکاپخواني ولسمشرجورج بوش ونه شواى کولاى دخپلې پیل شوې جګړې له دلیل څخه دفاع وکړي، نوموړی د (جان مکین) ترڅنګ چې دده دګوند له خوا دټاکنو نوماندووهم ونه لیدل شوترڅودهغه په ټاکنیزوهڅوبده اغیزه ونه کړي.
که چیرې همغه شان چې دافغانستان جګړه د اسامه بن لادن دنیولولپاره وه نودعراق جګړه دڅه لپاره؟ آیاصدام دالقاعدې سره اړیکه درلوده؟آیاصدام دنړیوالې سوداګرۍ په برجونوپه برید کښې لاس درلود؟ دټول وژنې وسلې چې دجګړې دپیل بهانه وه کومې دي؟
دلته اړینه ده دامریکا دیوې پېړۍ هغه تدبیر ته ګوته ونیسوچې په نړۍ دولکې لپاره یې له لاس لاندې لري...دلته داسې کړنلارې شته چې دجګړې څخه ترمخه دي ...هیڅ شی هم ناڅاپي نه دي دنورو شیانو په اړه خبرې کول زیاتی اووخت تیرول دي.
که چیرې اسامه بن لادن ګرم وي ، نودامسله امریکاته دااجازه ورکوي چې يې له کتنې اوپلټنې په افغانستان یرغل وکړي اوښارونه وران کړي ؟
که چیرې معلومات موجودوي چې دګرم والي ځرګندوي نوولې داسامه بن لادن لپاره ځانګړې محکمه جوړه نه شوه؟
ددې خواب بله برخه ددې ځرګندونه کوي چې په دې دووهیوادونوکښې دامریکاشتون یوازې دبښتیالودپلټلولپاره دی ، زموږپوښتنه داده چې آیاړانده بمونه اوراکټونه دتندلارې اومینځ لارې توپیر کولاى شي؟آیاهغه بم چه (فرش) نومیږي اوپه خپله شااوخواکښې هرساکښ وژني، تندلارې له نوروڅخه جلاکولای شي؟آیاهغه بمونه چه دبې پیلوټه الوتکوله خوااچول کیږي دقربانې شووترمنځ د توپیر کولو وړتیالري؟
که له تندلاروڅخه ستاسې موخه طالبان اوالقاعده دي نوآیا هغه کسان چه په افغانستان کښې وژل کیږي ټول تندلارې دي؟ اویاداچه دویکي لیکس دسندونوپه بنسټ په دې جنایت سره یوازې بیګناه افغانان له منځه وړل غواړي؟ دعراق تندلارې چیرې دي؟ تریوملیون زیات دعراق وګړي ووژل شول په سلګونوزره مووربړول ، نارینه اوښځینه بندیان موپه ډیره بده توګه وځورول، چه دابوغریب زندان ددې زړه بوږنوونکي پېښې ګواه دی اودګوانتاموزندان هم په هم دې شان ربړوني لري...
دسپینې ماڼۍددې خواب په دریمه برخه کښې له عراق څخه دامریکاوتلوته نغوته شوې اووایي چه له عراق څخه دامریکاپه شاتګ له عراق سره دیوپربکړه لیک له مخې دی اولیکي :)عراقیانو ته دامنیتي مسؤلیتونوسپارل اوپه دې خبره دامریکایانوټینګارپرتندلاروباندې دعراقیانودبریالیتوب لامل شو(، یاپه بله ژبه: دامریکاپه شاتګ دتندلارودحملواومقاوت له امله نه دی، چه داخبره له منطق اوربښتینولی څخه ډېره لرې ده، داترون دامریکايي قواوود آبرواوپت ساتلولپاره وو او دشاته تګ پرېکړه له اوباماڅخه دمخه دبوش په واکمنۍ کښې وروسته له دې وشوه چه عراق دامریکایې ځواکونو په هدیره بدل شو اونږدې یوپه دریمه برخه پوځي توکي یې دعراقي مقاومت له لوري له منځه ولاړل.
کله چه په دې خواب کښې له افغانستان څخه یادونه کیږي په ویاړدامریکايي ځواکونوله زیاتوالي اودافغان ځواکونودروزنې دچټکوالي څخه خبرې کیږي اوداسې انګیرل کیږي چه آلمان، انګلستان اودچک دولت دځواکونودزیاتوالي ژمنه کړې ده چه البته داسپیناوی غواړي.
اوباما څوځله ویلي دي چه ددوه زره یولسم کال په لومړي نیمايي کښې به افغان ځواکونوته دامنیتي واک سپارل پیل شي اوداخواب ویونکی باوري دي چه داخبره ددوی دبریالیتوب ځرګندويي کوي نه دناکامۍ !!!
عبدالمنعم په دې اړه لیکي: ثبښته څنګه کیدای شي بریالیتوب وي؟ داتناقض ولې؟ دزیاتواونوځواکونولیږل اوپه همدې وخت کښې دشاتګ په اړه ځرګندونې، دهغو نیمګړتیاووځرګندويي کوي چه له ربښتینوضررونوڅخه سرچینه اخلي چه سترګې نه شي پرې پټېدای.
دامریکایانویوه له شک نه ډکوخبروڅخه داده چه هڅه کوي وښیي چه دوي خپل هیوادپربښې ددې لپاره چه دافغانستان اوعراق لپاره قرباني ورکړي !په دې ډول چه دبیارغونې له لویوطرحو لکه دښوڅیو، روغتونونو،دبریښنابندونو، لویو لارو او داسې نورو له ودانولو څخه خبرې کوي تر څو وښیي چې په دې دوو هیوادونو کښې دژوند کچه ښه شوې ده، هغه خبره چې روښانتیاته اړتیالري.
عراق دیرغلګروتربریدوروسته په کنډواله بدل شو چې سپوږمیږ جالونه داکړنې رابرسېره کوي، افغانستان چې ددوي په خبره روغتیايي چوپړ يي له اته سلنې څخه تر درې اتيا سلنې ته لوړ شوي دي له اړه دروغ دي، څکه چې دامریکااوناټوځواکونه یوازې دافغانستان شل په سلوکښې خاوره په ولکه کې لري، یاپه بله ژبه یوازې دښارونوپه مرکزونوباندې واک لري، داخبرو ټاکنو پایلې چې یوازې په دې ځایونو کښې ترسره شول اودافغانستان یوازې لس په سلوکښې خلکوبرخه په کښې اخیستې وه ددې خبرې پخلی کوي، اوس نوڅنګه شونې ده چې روغتیايي آسانتیاوې دې تر دریو اتيا سلنه خاورې ته رسیدلې وي...
امریکایانولیکلي چې ددوي ځواکونووکړای شول دهغو ماشومانو د مړینې کچه ټیټه کړي چې نوي زیږي اویایې عمرونه ترپنځه کلونوکم دي، ددوي په وینایه دوزره اتم کال کښې يې یوازې له پنځه اتیازره ماشومانوڅخه پالنه کړې ده !آیادیونیسف له خوادې کړنلارې د پلي کولولپاره یولک اوپنځوس زره پوځیانوته اړتیاده !؟
ددې سره سره نړیوال رپوټونه او غربي اوامریکایي رسنی داخبرې ردوي دبېلګې په توګه:
* دروغتیانړیوال بنسټ تېره میاشت اعلان وکړچې په افغانستان کښې ویاخپره شوې ده.
* افغانستان دهغوڅلوروهیوادو له ډلې څخه دی چې ددې سره سره چې په نړۍ کښې دګوزڼ ناروغی ریښې وتلې دي له دې ناروغۍ څخه خوربږي، داهغه ناروغي ده چې که چیرې يې دواکسین په واسطه مخه ونه نیول شي تراخته کېدووروسته علاج نه لري.
* دبشري حقونودخپلواک کمیسون په وینایه افغانستان کښې تردوه زره اتم کال پورې دپنځه دیرش بیلیونه ډالره مرستې سره سره په دې هیوادکښې دشپږسوه زره څخه زیات هغه ماشومان چې دسرکونوپه سرژوند کوي له پالنې اوروزنې څخه پاته شوي دي، بایدله یاده ونه باسوچې هغه کسان چې په افغانستان کښې دامریکايي ځواکونو او دهغوی دملګروله لورې وژل شوي له یومیلیون څخه زیات دي.
هاخواپه عراق اوبیاپه فلوجه کښې روغتیايي حالت د څو ټنه غني شوو یورانیمو په کارولو دسرطان، د نوو زیږیدونکو ماشومانو نیمګړتیا او داسې نورو ناروغیو زیاتېدا ته په پام سره داندېښنې وړدی.
دځینو دولتي کړیو څېړنې ښيي چې په فلوجه کښې دسرطان ناروغي کچه دجاپان په هیروشیما او ناګازاکي کښې ددوو اټوم بمونو څخه دپېښو شوو ناروغیو په پرتله زیاته ده.
همداشان دعراق څخه کابودرې ملیونه خلک نوروهیوادونوته کډوال شوي دي.
په عراق کښې دننه تردوه میلیونه زیات خلک بې کوره شوي دي.
دامریکایانوپه وینادافغانستان اقتصادله دوه زره اتم څخه تردوه زره نهم پورې سل په سلو کښې ښه شوی دی ، په داسې حال کښې چې بارک اوباماڅوځله په افغانستان کښې له اداري فسادڅخه سرټکونه کړې ده اوله بلې خواحامدکرزي څوځله په خپله امریکایان دفسادلامل بللي دي اوټینګار کوي چې دبهرنیانودورکړشوومرستوڅخه درې په څلورمه برخه دوی په خپله غلاکړي دي، په هغه ناسته کښې چې په دې وروستیو کښې په افغانستان کښې دمرسته کوونکوهیوادونوپه ګډون په کابل جوړه شوې وه دواړوخواوو یو بل په درغلی کښې پړه وبلل چې داد دواړو خواوو له لوري د یوډول جوړې شوې ډرامې ځرګندويي کوي.

محمد خلیل

د حجة الوداع خطاب

د حجة الوداع مطلب دا دی چې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند آخري حج و چې د هجرت په لسم کال يې ادا کړ، دا هغه حج دی چې محمد صلی الله علیه وسلم (۱۲۴۰۰۰) یو لک او څلور ویشت زره حاجیانو ته خطاب وفرمایل او هغوی ته دا مسؤولیت ور په غاړه کړ چې زما دغه خطاب دې هغو خلکو ته هم ورسوي چې دلته شتون نه لري.
که څه هم محمد صلی الله علیه وسلم د عرفات په میدان کې اوږد خطاب کړی دی خو موږ دلته په لنډ ډول دهغه څو اقتباسات قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کوو:
* له حمد او ثنا نه وروسته: زه ستاسې په وړاندې ددې خبرې اعلان کوم چې له الله نه پرته بل هېڅوک (معبود) نشته، هغه ایکي یو دی او هېڅ شریک نه لري، زه ددې خبرې هم اعلان کوم چې محمد صلی الله علیه وسلم دهغه بنده او رسول (استازی) دی.
* ای د الله بنده ګانو ! زه تاسو ته یواځې دهمغه ذات د عبادت کولو نصیحت کوم، له هغه پرته د بل هیڅا عبادت مه کوئ.
* ای خلکو ! تاسې زما خبرې په بشپړ غور سره واورئ زه تاسو ته هره خبره په پوره وضاحت سره کوم، څکه چې زه داسې ګڼم چې لدې کال نه وروسته به زما له تاسو سره لیده کاته ونه شي.
* ای خلکو ! ستاسې وینه او ستاسې مال پخپلو منځونو کې د قیامت تر ورځې داسې حرام ګرځول شویدې لکه چې ستاسی دا میاشت، دا ښار او دا ورځ محترمه ده.
* له چا سره چې د چا امانت وي هغه دې خپل خاوند ته وسپاري.
* د جاهلیت د زمانې د سود ټولې پیسې، د وینې پوروونه، او د جاهلیت ټول منصبونه له منځه وړل کیږي خو یواځې د کعبې د ځګرانی او حاجیانو ته د اوبو ور کولو کارونه به پخپل حالت کې پاتې کیږي.
* څوک چې قصداً ووژل شي له هغه نه به قصاص اخستل کیږي خو څوک چې شبه قتل عمد کې مړ شي نو دهغه دَین سل اوښان دي. هر څوک چې له دینه زیات واخلي هغه د جاهلیت د زمانې د خلکو کار کوي.
* ای خلکو ! د اسلام د حق او سپیڅلي نظام له غښتلی کېدونه وروسته شیطان لدې خبرې بالکل ناهیلی شویدې چې ستاسې په دې زمکه کې به خلک دهغه عبادت وکړي، خو هغه په دې خبره هم ډېر خوشالیږي چې په هغو نورو ګناهونو کې دهغه اطاعت وکړی شي چې تاسې يې واړه ګڼئ.
* ای خلکو ! ستاسې ښځې پر تاسې او تاسې پر هغوی څه حقوق لرئ، پر هغوی لازم دي چې هغوی له تاسو پرته بل چا ته ستاسې د خوب ځای ته د راتلو اجازه ورنکړي او داسې هېڅوک دې کورته نه دننه کوي چې تاسې دهغوی راتګ نه خوښوئ، د بې حیائی له هر ډول کارونو څخه دې ډډه وکړي، خو که چېرته د بې حیایي کوم کار ترسره کړي نو الله تعالی تاسو ته اجازه درکړیده چې دهغوی د اصلاح لپاره له خپل بستري نه جلا کړئ او داسې بدني سزا ورته ورکړئ چې د زخمونو نښې پکې جوړې نه شي، که هغوی ستاسې خبره ومني نو د قاعدې مطابق دهغوی خرڅه پر تاسو ده. ښځې ستاسې تر لاسو لاندې دي، هغوی پخپله د ځانو لپاره څه نه شي کولی، تاسې هغوی الهی امانت په توګه د خپل ژوند ملګري ګرځولي دي او د هغوی بدن مو د الهي قانون مطابق پخپل تصرف کې راوستي دی، تاسې د ښځو په کارونو کې له الله نه وویریږئ او په ښه ډول دهغوی پالنه وکړئ.
* ای خلکو ! مؤمنان پخپلو کې ورونه ورونه دي، هیچا لپاره دا روا نه ده چې د خپل مؤمن ورور مال دهغه له اجازې پرته واخلي.

پاتې ٤ مخ

شهادت اوونیزه

خپروونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
دیزاین خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

د انتخاباتو کمیسون ورځ تر بلې ...

نور محمد نور وویل چې دوی تراوسه پورې ږغ نه دی پېژندلی خو جدي تحقیقات یې پیل کړي دي چې مالومه کړي څوک او څوک سره خبرې کوي.
خو په هرات کې بایلونکي اعلان شوي کاندیدان وایي چې دوی پوره باوري دي چې دا خبرې د اوبو او انرژی د وزیر محمداسماعیل خان او انتخاباتي کارکوونکي عبدالرشید ارشاد ترمنځ دي.
یوه کاندید غلام قادر ادعا وکړه چې ارشاد ټیلفوني مکالمه ثبت کړې او د هغو کاپیانې یې کاندیدانو ته ورکړې څو ثابته کړي چې اسماعیل خان پر ده فشار راوړي چې د انتخاباتو په نتیجو کې لاس ووهي.
ده همداراز وویل: "ارشاد ثبت کړې ټیلفوني مکالمه څینو کاندیدانو ته وسپارله او هغوی ته یې وویل چې دی د اسماعیل خان تر فشار لاندې دی او اسماعیل خان د انتخاباتو په کمیسون کې پر هر کارکوونکي فشار راوړي چې د ده د خوښې وړ کسان کامیاب کړي."
اسماعیل خان ارشاد ته وایي: "په راتلونکو نتیجو کې چې تاسي به یې اعلانوئ زما توقع دا ده چې هغه کسان به د کامیابانو په لیست کې وي چې نومونه یې ما ته یاد کړل."
ارشاد په ځواب کې ورته وایي: "دا ټول نومونه زما په یاد نه شي پاته کېدای ځکه چې له ما سره په دفتر کې کاغذ نه پر بېردي. دفتر ته د ننوتو په وخت تلاشي اخیستل کېږي او هیڅ کاغذ راسره نه پر بېردي. یو واربیا نومونه راته واخله چې په حافظه کې مې پاته شي."

نقش کانادا بعد از ۲۰۱۱ در...

کشور افغانستان را ترک کنند، ولي حالا متقاعد شده که نیرو های افغان نیاز به آموزش بیشتر دارند. ولی وی در مورد جزییات آموزش نیرو های افغان چیزی نه گفت.
هارپر همچنین گفته است که کشورش تحت فشار ناتو قرار داشته تا نیرو های کانادایی به نقش جنگی اش در افغانستان ادامه بدهند، ولی وی می گوید، آموزش نیرو های افغان چیزی است که وی می تواند با آن توافق کند.
صدراعظم کانادا افزود، بعد از آن که نیرو های جنگی کشورش افغانستان را در سال ۲۰۱۱ ترک کردند، نقش کانادا در افغانستان کاملاً غیر نظامی خواهد بود.
به گفتهء هارپر، باقی ماندن تعداد کمی از نیرو های کانادایی به منظور آموزش نیرو های افغان بهترین تصمیم وی بوده است، زیرا دست آورد های آن کشور در افغانستان، ادامه پیدا خواهد کرد. وی همچنان ابراز امیدواری کرد که نیرو های افغان در چند سال آینده قادر شوند تا مسوولیت امنیتی را خود به عهده بگیرند.
آژانس خبری اسوشیتد پرس به نقل از یک مقام ارشد کانادایی نوشته است که ۷۵۰ مربی نظامی این کشور و ۲۵۰ کارمند حمایوی تا سال ۲۰۱۴ میلادی در افغانستان باقی خواهند ماند.
بر اساس فیصلهء پارلمان کانادا، نقش جنگی نیرو های این کشور در قندهار تا سال ۲۰۱۱ میلادی پایان می یابد.
بعد از رد تقاضای امریکا مبنی بر اعزام نیرو به عراق، کانادا تعداد عساکرش را در افغانستان، افزایش داد. در سال ۲۰۰۵ میلادی، این کشور مسوولیت نظامی ولایت قندهار را به عهده گرفت و از آن به بعد، تلفات زیادی را متحمل شد.
بعد از سقوط رژیم طالبان در سال ۲۰۰۱ میلادی، تا حال بیش از ۱۵۰ عسکر کانادایی در افغانستان کشته شده اند و بیش از ۱۵۰۰ تن دیگر، زخمی شده اند.
حامد کرزی، رییس جمهور افغانستان، می خواهد تا نیرو های پولیس و اردوی افغان رهبری تامین امنیت و دفاع از این کشور را در سال ۲۰۱۴ میلادی به عهده بگیرد. به نوشتهء اسو شیتد پرس، این پلان فقط زمانی می تواند تحقق یابد که تلاش ها به هدف آموزش نیرو های افغان افزایش پیدا کند.
به گفتهء ویلیم کادویل، قوماندان نیرو های ناتو که مسوولیت آموزش نیرو های افغان را به عهده دارد، ۹۰۰ مربی نظامی بیشتر نیاز است تا نیرو های افغان را آموزش بدهند. به گفتهء یک مقام کانادایي که نه خواست نامش افشا شود، مربیان آن کشور، این کمبود را تکمیل خواهند کرد.

په افغان دولت کې د فراخ فساد ...

یو هغه دا دي چې له دې سره به ښه حکومتي اداره جوړه شي. خو اوس لا څرګنده نه ده چې دا کار کېږي او کنه."
امریکایی سناتوران د عراق له سفره وروسته افغانستان ته راغلي دي. د دوی د سفر بل تپال اسلام اباد دی.
جان مککین وویل چې دوی څلور واړه به پر پاکستاني چارواکو فشار راوړي چې د القاعده او حقاني ډلې پرضد اقدام وکړي چې د ده په وینا خالي یې په پاکستان کې دي او حملې په افغانستان کې کوي.
مککین زیاته کړه: "د حقاني شبکه په مصونیت سره فعالیت ته دوام ورکوي او موږ به پاکستان ته لاړ شو او د پاکستان له مشرانو سره به دا موضوع مطرح کړو."
د امریکا د مشرانو جرګې د کورني امنیت د کمېټې مشرخپلواک سناتور لیبرمن، چې نه د جمهوریتپالو او نه هم دیموکراتانو غړی دی، وویل چې د تېرې اوونی له منځپراوو انتخاباتو وروسته په کانګریس کې دواړه ګوندونه د افغانستان ملاتړ ته دوام ورکوي. ده دا هم وویل چې دا ملاتړ نامشروط هم نه دی.
هغه زیاته کړه: "هرځل چې د فساد قضیه وي، یا د فساد شواهد وي.... په داسي حال کې چې د بودجې ستونزې لرو زموږ لپاره په کانګریس کې ګرانه شي چې هغسې ملاتړ وکړو چې دلته (افغانستان) د بریالیتوب لپاره پکار دی. له همدې کبله دا د افغانستان په ګټه ده او د ولسمشر کرزي په ګټه ده چې له فساد سره مبارزه وکړي."
له نیویارک څخه د دیموکرات ګوند سناتورې ګلي براند د لیبرمن څرګندونې تایید کړې او ویې ویل چې دا هم په افغانستان کې د فساد د مزمنې ناروغۍ، نه شفافیت او نه څارنې او په لګښتونو کې د محاسبې د نشتوالي له درکه اندېښمنه ده.
دې زیاته کړه: "موږ له ګلونو راهیسي په دې هیواد کې پیسې ویشلي حقیقت دا دی چې موږ څینو داسې کسانو ته پیسې ورکوو چې هغوی په خپله د ستونزې برخه (عاملان) دي."
د سناتور ګراهام لویه اندېښنه هم د افغانستان په حکومت کې اداري فساد و و. د بر امریکایي چارواکي د ګټو افغانانو په شان اوس دې نتیجې ته رسېدلي چې ترڅو د افغانستان په حکومت کې فساد او لوټمار پای ته نه وي رسېدلی حکومت د ولس ملاتړ او اعتماد نه شي خپلولی.

موږ هڅه کوو چې له ایران سره...

کړي او شته ستونزه پای ته ورسوي.
که څه هم هغه دا ومنله، چې دا ستونزه په بشپړه توګه نه ده هواره شوې، خو هیله مند دي، چې تهران ته به په خپل راتلونکي سفر کې له ایراني چارواکو سره په دې اړه رغنده خبرې ولري:
(له کومې ورځې، چې دا کار پیل شوی، زیات پرمختګ شوی، خو دا مسئله په بشپړه توګه نه ده حل شوې، ځکه، چې دا یوه ستونزمنه مسئله ده.
د دې سره سره موږ زیات پرمختګ کړی او زموږ هلې ځلې به دوام وکړي، زه په راتلونکو دوو ورځو کې د افغانستان او ایران ترمنځ د مشترکه کمیسون په اړه ایران ته یو بل سفر لرم او هڅه کوو، چې هغه یو شمېر افغان بندیان، چې په ایران کې دي هېواد ته یې انتقال کړو.)
د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر دا څرګندوني وروسته له هغې کړي، چې تېره اونۍ د هېواد مشرانو جرګې په ایران کې د افغان بندیانو د اعدام په دوام سخت انتقاد وکړ او له حکومت نه یې د دې کار د بندولو لپاره د سختو اقداماتو غوښتنه وکړه.
خو مشرانو جرګې ته د بهرنیو چارو وزارت وربلل شوېو چارواکو بیا په ایران انتقاد وکړ، چې په دې مسئله کې ورسره همکاري نه کوي او دوي نه پوهېږي، چې اوس مهال په څومره شمېر کې افغانان اعدام شوي او څومره نور یې په اعدام محکوم دي.
خو د بهرنیو چارو وزیر وویل، چې له ایراني چارواکو سره د دوي په خبرو کې پرمختګ موجود دي او هڅه کوي د افغانستان د عدلي او قضایي ادارو یو پلاوې ایران ته واستوي، څو د افغان بندیانو په اړه زیات معلومات ترلاسه کړي:
(ما خپله ایران ته یو سفر درلود او په دې اړه مو زیاتې خبرې کړې او دې نتیجې ته رسېدلي یو، چې د افغانستان د قضا، لوی څارنوالي او کورنیو چارو وزارت یو پلاوې ایران ته سفر وکړي او دا مسئله مطرح کړي.
موږ هڅه کوو لومړې څان په دې پوه کړو، چې د افغانانو ګناه څه ده او د افغانستان د سفارت او قونسل خانو استازي باید د دوي په محاکمه کې موجود وي.)
په ایران کې د افغان بندیانو د اعدام په اړه لومړني رپورټونه تېر کال وروسته له هغې خپاره شول، چې له ایرن څخه د یو شمېر اعدام شوېو افغانانو مړي د هېواد لویدیځ ته انتقال شول او په ولسي جرګه کې د هرات وکیلانو په دې اړه پراخ احتجاج وکړ.
که څه هم تر اوسه پورې په ایران کې د اعدام شوېو افغانانو کره شمېره نه ده معلومه خو ویل کیږي، چې شمېر یې لسګونو تنو ته رسیږي.
خو د بهرنیو چارو د وزارت چارواکو د افغان سناتورانو د پوښتنو په ځواب کې دا انتقاد هم وکړ، چې اوس ایران د اعدام شوېو افغانانو مړي هم نه سپاري او دا نه ده روښانه، چې په څومره شمېر کې افغانان اعدام شوي.

اوباما ته د افغانستان د جګړې د ...

دا پوښتنه پیدا کوي چې ایا د امریکا متحد ایالتونه اوس په افغانستان کې خپلې هیلې اود قواوو شمېر کم کړي او کنه."
په راپور کې همداراز راغلي: "موږ هغه خطر چې ورسره مخامخ یو درک کوو خو په عین حال کې هغه لوړو لګښتونو ته هم متوجه یو چې د اوسني ستراتیژۍ له کبله یې ګالو. موږ دا مصارف نه شو منلی مګر دا چې ستراتیژي د پرمختګ نښې وښیي."
د نړیوالو اړیکو شورا د جنوبي اسیا د چارو کارپوه ډن مارکي، چې د دې راپور د پروژې ډایرکټر وو، وایي چې دا راپور د امریکایانو د اندېښنو منعکسوونکی دی چې د افغانستان د جګړې په باب د واشنګټن د ستراتیژۍ په وړاندې شک لري.
په دې ضربه قوې یا پلاوي کې حکومتي چارواکي، پوځي مشران، پوهان یا اکاډیمیک خلک، ژورنالیستان او د سیمې کارپوهان شامل وو.
دوی وایي که په دسمبر کې د افغانستان پر ستراتیژۍ د غور په وخت څرګنده شوه چې دا ستراتیژي په افغانستان کې بریالۍ نه ده، دوی سپارښتنه کوي چې په افغانستان کې دې د امریکایي پوځیانو شمېر کم کړای شي.
حاضردمه په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شمېر شاوخوا یولکو ته رسېږي خو د ګڼو کارپوهانو په نظر که له دې سره سره ستراتیژي ثابته کړي چې امریکایي پوځیان په افغانستان کې د وضعیت په بدلولو کې بریالي شوي نه دي بیا پکار ده چې امریکا په افغانستان کې له لسو تر شلو زرو پورې ځواکونه وساتي.
د ځواکونو کمول به امریکایانو ته دوه ګټې ولري. لومړی به یې لګښتونه کم شي او دوهم به یې تلفات.

په افغانستان کې به مو وسلوال ...

راپورونو په وړاندې سخت عکس العمل ښودلی دی.
اوبتسیان ویلي د افغانستان په شمالي سیمو کې د امنیتي وضیعت خرابوالي ځکه روسیه اندېښمنه کړې چې دا سیمې د پخواني شوروي اتحاد د یو شمیر جمهوریتونو سره ګډه پوله لري.
په افغانستان کې د ناټو ځواکونو یو لوړ رتبه قومندان په دې وروستیو کې وویل چې په شمال کې د نا امنۍ د پراخېدو یو سبب دغلته د نړیوالو ځواکونو کموالی دی.
د کابل لپاره د روسیي استازي وړاندې ویلي په افغانستان او په خاصه توګه ددغه هیواد په شمالي سیمو کې د تاوتریخوالي د زیاتوالي سبب په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو زیاتوالی دی.
هغه ویلي څومره چې سرتیري زیاتیږي هغومره ورسره د وسله والو فعالیتونه هم پراخیږي.
په افغانستان کې د نشي موادو د لابراتوارونو د میځه وړلو په عملیاتو کې د روسي عسکرو د ګډون په اړه اوبتسیان وویل، ددغه هیواد ځواکونو په دغو عملیاتو کې ګډون نه دی کړی او نه هم دا موضوع مطرح ده.
نوموړي وړاندې ویلي په ننګرهار کې ترسره شوي عملیات له ناټو او د افغانستان د کورنیو چارو له وزارت سره په تفاهم کې شوی او په دې اړه د افغان ولسمشر حامدکرزي عکس العمل د ناسمو معلوماتو نتیجه ده.
د افغانستان لپاره د روسیې استازي له افغانستان سره د خپل هیواد د مرستو موضوع ته په اشارې ویلي مسکو په دې وروستیو کې له افغان پولیسو سره د زیات شمیر کلاشینکوفونو او پوځي مهماتو مرسته کړې ده.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو ...

څوارلسم کال پورې د ټول امنیت مسولیت سپارلو اعلان ډیر سوالونه او انتقادونه پیداکړي دي.
څیرونکي په دې باور دي، چې دا ډول اعلانونه وسله وال دښمنان لا پیاوړي کوي له بله پلوه، د افغانستان پوځي ځواکونه به تر هغو د ټول هیواد د امنیت تامین توان ونه لري.
ورځپاڼه لیکي چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هلري کلنټن، د دفاع وزیر رابرټ ګیټس او د ګډو ځواکونو لوې درستیز امیرالبحر مایک مولن په وروستیو کې د خبرو پرمهال له دې مهال ویش څخه یوڅه په څنډ شوي دي. دوي ویلي، چې امریکایي ځواکونه به لږترلږه په راتلونکو څلورو کلونو کې په افغانستان کې فعالیت ولري.
نیویارک ټایمز لیکي، اوس امریکایي مقامات په پرله پسې ډول وایي، چې د عسکرو خروج او افغاني لوري ته د مسولیت سپارلو نېټه په دې هیواد کې له شرایطو سره ارتباط لري.
نیویارک ټایمز د یوشمیر امریکایي منصبدارانو په حواله لیکي، چې په افغانستان کې د جګړې بهیر د تغیر په حال کې دی او طالبانو نور هغه پخوانی قوت نه لري.

والسټریټ ژورنال:
وال سټریټ ژورنال ورځپاڼه په افغانستان کې د بریتانوي قواوو د یوه قوماندان له قوله لیکي، چې تراوسه په افغانستان کې د پرمختګ قضاوت مخکې له وخته خبره ده.
دغه بریتانوي پوځي ویلي، د راتلونکي کال دوبی ښایي په دې اړه د ارزیابي کولو مناسب وخت وي او له هغه وروسته کیدای شي، چې له افغانستان څخه د امریکا د قواوو پر وتلو غور وشي.
د دې بریتانوي جنرال په نظر هم له افغانستان څخه د عسکرو د وتلو د مهال ویش ټاکل له وخته مخکې اقدام دي.
خو نیویارک ټایمز وایي، چې د امریکا د دفاع د وزیر وروستی خبرو دا غلط فهمي له منځه لرې کړه. ګیټس وویل، طالبان به په دې حیران شي چې د راتلونکي کال تر نیمایي وروسته هم امریکایي قواوې د څان په تعقیب کې ویني.

د حجة الوداع حطاب بقیه ...

* داسې هرګز ونه کړئ چې له مانه وروسته خپل دغه د ورورۍ اړیکې وشلوئ او د کافرانو په څېر د یو بل څټونه ووهئ.
زه تاسو ته داسې یو څیز پرېږدم چې تر څو پورې مو پر هغه عمل کاو نو کله به هم بې لارې نه شئ. هغه څیز د الله کتاب او دهغه د نبي سنت دی.
پر تاسو دې د الله رحمتونه او سلامتي وي.
* ای خلکو ! ستاسې رب هم یو دی او ستاسې نیکه هم یو دی، تاسې ټول د یو آدم اولاد یاست او هغه له خاوری نه پیدا کړی شوې دی. له تاسونه د الله په نزد هغه څوک زیات عزت من دی چې زیات تقوی دار وي. هیڅ یو عربي په کوم عجمي، او هیڅ یو عجمي په کوم عربي هیڅ ډول فضیلت نه لري، فضیلت یواځې د تقوی داري په لحاظ دی.
* ای خلکو ! الله تعالی په میراث کې هر وارث ته ثابته برخه ټاکلې ده، له دریمې حصې نه زیات وصیت کول جایز نه دی.
بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته وویل: له تاسونه به زما په باره کې پوښتنه کیږي چې ما خپل رسالت څنګه ترسره کړی؟ تاسو به څنګه ځواب ورکوئ؟ خلکو په اوچت غږ وویل: موږ ګواهي ورکوو چې تا خپل رسالت پوره کړی او خپل پیغام دې رسولې دی، امت ته د نصیحت کولو حق دې ترسره کړی او الهي امانت دې په بشپړ ډول موږ ته رسولې دی.
بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای الله ! ته ګواه واوسه، ای الله ! ته ګواه واوسه، ای الله ! ته ګواه واوسه.
کوم خلک چې دلته مؤجود دي هغوی دې زما دا خبرې غیر حاضرو ته ورسوي، کیدی شي د څینو اوریدونکو په نسبت څیني غیر حاضر خلک ته زما دغه خبري ښه زده کړي او په زړه کې وساتي.